مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد.

مصطفی پسرلی

۲۰۱۹/۰۴/۱۵

# غزل

مستی وي، ولولې وي خو جنون تېږي، تېږي کړې
ښایسته د وصال شپې وي خو بېلتون تېږي، تېږي کړې

مکرونو، فریبونو، حرص. هوس ونږولې
ودان وي تش په نوم یې د سمون تېږي، تېږي کړې

روانه ده، راځي به، دا نو څرنګه راتله دي
د سولې په نامه روان مضمون تېږي، تېږي کړې

قانون د انسانیت په دې ځنګل کې نه چلېږي
زور بر دی د زورواکو. دې قانون تېږي، تېږی کړې

ژوندون ته دې د امن او د سولې فضا نه شته
پسرلیه! هره ورځ د زړه چاودون تېږي، تېږي کړې

مصطفی پسرلی
14/04/2019



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ